# د رحمان بابا په کلام د سنسکرت ژبې لساني اثرات

# The lingual impacts of Sanskrit language on the poetic works of Rehman Baba

Dr. Muhammad Farooq Anjum★

**ABSTRACT:**

Sanskrit is an ancient language belonging to Indo- Aryan branch of indo- European languages family in which the oldest book of the world " Rigveda " was composed. The Sanskrit language has been spoken since 5000 years before Christ .it is believed that all languages of the world have originated from Sanskrit somewhere. According to the research of linguistic experts, Aryan languages, if they are in every corner of the world, have remained connected to each other, because they all have the same base. We can conclude from this research that Sanskrit and Pashto are very closely related. Therefore Sanskrit has had significant influence on Pashto language.

Rehman baba has used many words of Sanskrit in his poetry. The aim of this article is to highlight the lingual impacts of Sanskrit language on the poetic work of Rehman baba .

**Keywords:** Rahman baba,Pashto.Poetry.Linguistic.Sanskrit

## د پښتو او سنسکرت لساني روابط :

د دنیا په قدیمو ژبو کښې سنسکرت ژبه ډېر لوړ مقام لرېـد برصغیر جنوبي ایشیا په ژبو د سنسکرت ژوراثرات دي۔

عبدالحئ حبیبي د دې ژبې په حقله لیکي:

"د سنسکرت د کلمې معنیٰ هم مهذبه او بشپړه او سمه کړي ده۔ د خپله نامه سره سمه دغه ژبه د ویدي ژبې له تهذیب او سمولو څخه راپیدا شوه۔ پوهان

★ Assistant Professor, National University of Modern Languages, Islamabad, Pakistan

په دې خبره کښې اختلاف لري چې آیا کوم وخت دا ژبه ویل کېده که نه؟ خو دا ښکاره خبره ده چې سنسکرت یوه پخوانۍ علمي او ارته ژبه ده. په سوونو کتابونه له پخوا زمانو څخه په دې ژبه کښې پاتي دي. ځکه چې د دې ژبې ادبي او علمي آثار ډېر دي او د زمانې د یرغله هم ساتلي پاتې شوي دي. لغات او کلمات او قواعد یې هم ټول شوي او لیکل شوي دي نو د آریائي ژبو د مقایسي فیلا لوژۍ لپاره ډېر قیمت لري. کولای شو، چې د یوې ژبې اساس د سنسکریت له مقایسي څخه معلوم کړو" (۱)

دا یوه آریائي ژبه ده. د آریاؤ مذهبي ویدونه په دې کښې دي. تاریخ لیکوني لیکي چې کوم وخت چې آریا دوه ډلو کښې تقسیم شول او ایراني او هندي څانګې یې جوړې شوې نو وید مونږ د اصلي ژبې سره نزدې کوي. وید څلور برخې دے د ټولو نه زوړ رګ وید دے دا د زړو قامي سندرو مجموعه ده چې د سیمو، رودونو نومونه پکښې موجود دي. د ریګ وید د ځنو برخو ژبه د اوستا ګاتا سره قربت لري. د دې نه دا خبره څرګندیږي چې د وید او اوستا ژبې یو ځائې پیدا وې خو وید ژبه هم په خپل حال پاتې نه شوه او چې آریائي قامونه د اباسین نه راتیر شول او دغه هندي آرین د پنجاب او هند په زرغونو او شنو ورشو ګانو کښې خواره او میشته شول نو دغه ویدي ژبې نه د زمانے په تیریدو د بدلون له کبله یوه سمه کړې سنسکرت ژبه جوړه شوه.

ډاکټر محمد انصارالله د "سنسکرت اردو لغت" په مقدمه کښې لیکي:

*"حقیقت جو بھی ہو، امر واقعی یہ ہے کہ تبدیل شدہ حالات میں آریاؤں کی زبان میں بھی غیر معمولی توسیع و ترقی ہوئی اور ایک مدت میں پاک صاف اور پختہ ہو کر اس نے "سنسکرت" نام پایا" (۲)* □

دا مهذبه ژبه ډیره زَړه ده، د صوابۍ ضلعې د لاهور کلي پانیني په قبل مسیح دور کښې د ویدي ژبې لوئې عالم تیر شوے دے. ددهٔ آثار هم زمونږ په واک کښې دي او ترجمې ئې شوي دي. د سنسکرت ګرامر ئې مشهور دے. ددهٔ د خوارۍ له کبله ویدي ژبه سمه او مهذبه شوه صرف و نحوئې ورله ترتیب کړل او سنسکرت یعني سمه کړې ژبه نوم ئې ورله کېښود. په دې توګه دا ژبه د زړې ویدي ژبې له سمولو او اصلاح کولو له کبله وزیږیده. او بیا د پانیني دغه ایښودے شوے نوم په داسې ډول عام او خور شو چې د وید ژبه او د دې

نه بعد د نورو کتابونو ژبې او د دې سره سره په خپله دغه سمه کړې ژبه، دا ټولې د سنسکرت په نامه وپیژندے شوې۔ د وخت په تیریدو سره دې ژبې ته ډیر علمي او ادبي حیثیت تر لاسه شو او په ګڼو موضوعاتو پکښې رنګ رنګ کتابونه د لیک لاندي راغلل۔

مسلمانانو هم د سنسکرت ژبې په تصنیف و تالیف لاس بر ؤ۔ په دې کښې لوړ هنر او پوهه لرله ، هم دغه وجه ده چې د دوي لیکلي شوي کتابونه دومره درجې مستند او معیاري دي چې د سنسکرت ژبې د ډیرو قدیمو تصنیفاتو په شمیر کښې ځانله د اهم ځاې د موندلو جوګه دي۔

ډاکټر محمد انصار الله په دې بابله لیکي:

''واقعہ یہ ہے کہ ہندوستان میں تسلط حاصل کرنے سے پہلے ہی مسلمانوں کے ذہنوں میں یہ خیال راسخ ہو گیا تھا کہ اس ملک کی علمی زبان سنسکرت ہے اور وہ اس زبان سے بخوبی دلچسپی لینے لگے تھے۔ البیرونی نے کتاب الہند لکھ کر سنسکرت اور اس ملک کے حالات و معاملات سے واقفیت بلکہ مہارت کا عمدہ ثبوت پیش کر دیا تھا۔ کہتے ہیں کہ اس نے سنسکرت کی بعض کتابوں کے ترجمے بھی کیے تھے۔ پھر سلطان محمود غزنوی نے اپنے'' دلی والے سکوں'' پر سنسکرت زبان میں کلمہ طیبہ کا ترجمہ لکھوا کر نہ صرف اس زبان کو سلطنت کی زبان کا درجہ دے دیا تھا بلکہ ان سکوں کے واسطے سے اسلامی عقائد کو ہندوستانیوں کے گرہوں میں بندھوا دیا تھا۔ اس کے بعد سے سنسکرت زبان میں اور سنسکرت کتابوں کے ترجموں کا سلسلہ چل پڑا۔ یہ خیال کہ مسلم علماء سنسکرت کے معاملے میں پنڈتوں اور برہمنوں کے دست نگر تھے، زبردست خوش فہمی یا بڑا فریب ہے۔ واقعہ یہ ہے کہ ہندو عالم جب اسلام قبول کرتے تھے تو وہ اپنے علم وفضل کے ساتھ اسلام کے دائرے میں آتے تھے اور قدرتی طور پر اپنے علم و فضل کو مسلم معاشرے میں عام کر دینے کی ان کی خواہش بلکہ کوشش بھی ہوتی تھی۔ انہوں نے سنسکرت زبان میں قرآن کا ترجمہ بھی کیا تھا۔ اس زبان سے مسلمانوں کی دلچسپی میں نشیب و فراز ضرور آتے رہے لیکن یہ سلسلہ کبھی ختم نہیں ہوا'' (۳) □

د سنسکرت زړې نسخې د ۱۵۰ ق م نه روستو بیاموندے شي ، د دې ویش په دوه دوره کیږي۔ ویدي یعني د وید د طرز دوره د ۱۵۰۰ ق م نه تر ۲۰۰۰ ق م پورې۔ او دویم

کلاسیکی دور د ۵۰۰ ق م نه تر ۱۰۰۰ ق م پورې لکه مها بهارت، رامائن، پوران او روماني او نور ګڼ د قیصو کتابونه د دې دور سره تعلق لري خو د فلسفې، قانون، طب او تیکنیکي کتابونه هم په دې دور کښې لیکلي شوي دي.

وید: د آریاؤ مذهبي نظمونه په وید کښې په سنسکرت ژبه کښې لیک دي. د وید څلور برخي دي او په څلورو نومونو مشهور دي.

۱. رګ وید ۲. سام وید ۳. یجر وید ۴. اتهر وید.

مها بهارت: دا کتاب د رزمیه نظمونو مجموعه ده. په دې کښې څه یو لاکھ اشعار دي. دا د کورو او پانډو قبیلو تر مینځه د تخت نشینۍ د پاره د جنګ جګړو په حقله دے. دا د هغه وخت یو نومورې شاعر ویاس په پنځمه صدۍ قبل مسیح کښې لیکلے دے.

رامائن: په سنسکرت ژبه کښې یو مهم کتاب رامائن هم دے. دا د یو لوړ شخصیت رام چندر جي او دده متعلق د نورو خلقو په بابله یوه مربوطه قصه ده. دا قصه د مها بهارت په مقابله کښې د یو زیاتې مهذبې معاشرې عکاسي کوي، هم دغه وجه ده چې دا د مها بهارت نه پس تصنیف ګڼلے شي.

ډیر پوهان په دې بابله یو فکر لري چې سنسکرت یوه ډیره علمي ژبه وه خو ویونکي ئې د نشت برابر ؤ. عبدالحئ حبیبي وائي چې:

> "سنسکرت فقط د علم ژبه وه او اکثر پوهان په دې فکر دي چې دا ژبه عموماً نه ویل کیده. ځکه چې د عمومي وینا ژبه باید ډیره اسانه او ساده وي مګر سنسکرت هسې د علم په درنو انډیو بارده، چې عوام یې کورتۍ نه شي زده کولاي او تاریخ هم دا نه ښکاره کوي چې یو وخت دا ژبه د عوامو ژبه وه، په خپله د هند برهمنان وایي چې یو وخت دا ژبه د هند په شمالي خواؤ کښې ویل کیده خو وروسته د دې ژبې نورې څانګې پراکریت (Prakrit) یعني فرعي ژبې پرې غالبې شوې او دا فقط د علم لپاره مخصوصه پاتې شوه او هم د پوهانو او دیني خلکو په مینځ کښې محصوره پاتې شوه او لکه چې پوهان وایي ددې ژبې پوهانو د مقدس والي له جهته نه غوښتل چې عوام او هر څوک دا ژبه زده کړي یا یې واوري نو ځکه د

کتابونو او پاڼو په منځ کښې ژوندۍ وه خو ویل کېدله نه"۔(۴)

د دې نه دا خبره په ډاګه کېږي چې سنسکرت یوه عوامي نه بلکه علمي ژبه وه ، تر پوهانو او عالمانو پورې محدوده وه۔ ګرانه وه ځکه ئې عام اولس کښې رواج نه ؤموندے او د هغه وخت عالمانو دا ژبه تر خپل ځانه او د کتابو تر حده پابنده ساتل غوښتل۔ له دې کبله دې ژبې عوامي رنګ نه دے اخستے۔

لکه د سنسکرت پښتو هم یو آریائي ژبه ده۔ ځنو پوهانو خو د دې ژبې تعلق سامي ژبو سره هم ښودلے دے خو په ګڼ شمیر کښې ژبپوهان په دې یو خُله دي او د خپلو څېړنو نه ئې دا ثابته کړې هم ده چې پښتو ژبه نه د قواعدو ، نه د لغاتو او محاورو له مخه سامي ژبو ته نزدې ده بلکه تر ډېره حده د آریائي ژبو سره عنصري او اساسي ګډون او اشتراک لري۔نو ځکه ئې د پښتو ژبې تعلق آریائي ژبو ایراني څانګې سره ګڼلے دے۔او د پښتو د سامي توب د نظریې نه انکاري دي۔د پښتو د آریائي توب په حقله ګرئیرسن په خپل کتاب کښې لیکي:

It has now long been admitted that the language (Pashto) belongs to the Aryan Stock.(5)

ډاکټر ټرمپ لیکي:

" پښتو ژبه د انډو آرین ژبو خاندان سره تعلق لري" (۲)

د پښتو مؤرخ او محقق بهادر شاه ظفر کاکاخیل په دې بابله وائي:

" د پښتو ژبې په باب کښې د اوسنۍ زمانې د ژبپوهانو او عالمانو د څېړنې او تحقیقاتو په نتیجه کښې دا خبره منلې شوې ده چې پښتو ژبه د ټولو ژبو په کورنۍ کښې په آریائي ډله کښې شامله ده۔د ژبپوهانو خیال دے چې آریائي قبائل د خپلو خوریدو نه اول په یو ځائې استوګن ؤ او د دوي مذهب او ژبه یوه وه ، د آریائي قامونو دا وړومبۍ ژبه چې ډاکټر لینان ئې د "آریک" په نامه یادوي ، اوس بیخي ورکه ده او هیڅ سراغ او درک ئې نه لګي۔البته د عالمانو د تحقیقاتو په نتیجه کښې دا خبره ثابته شوې ده چې د دې اولنۍ اصلي آریائي ژبې الفاظ او کلمات په ټولو آریائي ژبو کښې مشترک دي۔د ژبپوهانو خیال دے چې د ۲۵۰۰ ق م په خوا و

شاکښې لا د آريائي اقوامو ژبه او ارباب الانواعؤ وروستو چې دوي د خپل اصلي ټاټوبي نه او کوچيدل او د دوي ځنې ښاخونه د يورپ په لور او ځنې د ايران او هند په لور خوارۀ شول نو ځني آريا په باختر کښې هم پاتې شول ، دهغه وخت يعني، هجرت او کوچ نه پس د دې خلقو ژبې هم بيلې بيلې شوې ، ددي خبري په حقله د رګ ويد او آثار قديمه شهادتونه موجود نه دي۔(۷)

د پورتنو رايو او نظريو په رڼا کښې مونږ دا نتيجه اخذ کولے شو چې پښتو يوه قديمه آريائي ژبه ده او په مختلفو سيمو کښې د خوريدو نه مخکښې آريائي قامونو يوه خاص ژبه "آريک" وئيله اوس که څه هم د دغه ژبې څه نښې نښانې او معلومات د پوهانو په لاس نه دي راغلي خو مونږ دا وئيلے شو چې څنګه آريائي قامونو مذهب، رسمونه رواجونه او ملي دودونه لرل نو دغسې به ئې ځانله يو ژبه هم لرله او هم دغه ژبه د ټولو آريائي ژبو مور بللے کيږي، سنسکرت ، اوستا او پښتو هم د دغه ژبې "آريک" نه زيږيدلي دي۔ ښاغلے حبيبي ليکي:

> " پښتو هغې اصلي ژبې ته خو رانژدې ده او لکه سنسکرت او اوستا چې ځنې زيږيدلي دي پښتو هم د هغې ژبې لور ده "۔(۸)

هغه آريائي قامونه چې په نجدي يا باختر کښې ميشته ؤد ختيځ او لويديځ په لور خوارۀ شول د هند او ايران په پلو لاړل کوم چې د هند په طرف راغلل د هغوی ژبه سنسکرت وبللے شوه او کوم قبائل چې د ايران په مخ سفر وکړو د هغوی ژبه قديمه فارسي، بيا پهلوي، او بيا اوسنۍ فارسي شوه خو کومې قبيلې چې په نجدي او هندوکش په شمالي او جنوبي لمنو کښې پاتې شوې او بيا وروستو د (۱۴۰۰ ق م)د هيواد شرقي غرونو او د اباسين غاړو ته راغلل او هم دلته ديره شو ، دوئي لا تر اوسه هم دغه خپلې ژبې پښتو سره ژوند کوي۔

د پورتنو ذکر شو ؤخبرو ترمخه مونږ په ډاډه زړه او ډکه خله وئيلے شو چې پښتو او سنسکرت ژبې خپلو کښې ډير نزدې روابط لري او هم پښتو ژبه د اوستا او سنسکرت تر مينځه داتصال کړی ده۔ د ماهرينو د تحقيق په اساس آريائي ژبې که د نړۍ په هر ګوټ کښې دي د يو بل سره نښتې پاتې شوي دي ولې چې د دغه ټولو ژبو بنياد يو دے۔ هم د دغه

تحقیقاتو دا نتیجه هم لاسو ته راغي چې سنسکرت او پښتو خپلو کښې خویندې دي.

که وکتے شي نو د سنسکرت په نوم کښې هم د پښتو رنګ ښکاره په نظر راځي لکه ځنګه مخکښې ذکر وشو چې د سنسکرت د تهذیب شوې، بشپړ شوې او سمه شوې معنی لري.

سنسکرت یو مرکب نوم دے چې درې جزونه لري. رومبنے جز یې (سم یا سن) دے او د دې تعلق اصلي آریائي ژبې سره دے او س هم په پښتو کښې موجود دے لکه سم کار، سمه لار او نور. دا لفظ سنسکرت هم خپل کړے دے. Sam یا San دواړه لفظونه د سابقو په ډول په سنسکرت ژبه کښې د یو له بله سره د موافقت او نزدې والي په معنیٰ راځي. دا رنګه دویم جز یې (سه) یا (زه) دے چې لا تر اوسه کټ مټ د پښتو د ښه په شکل کښې مونږ سره موجود دے. سنسکرت کښې هم سو ډول (Su-Daaul) لفظ شته چې معنی ئې ده ښه ډول او ښه ځیره. د سنسکرت نوم دریم جز (کریت) دے او د دې معنیٰ "کرده شده" دي چې د پښتو (کړ) سره ډیر قربت لري. په سنسکریت ژبه کښې کرن Karan کټ مټ د پښتو کړن، یا کړل، یعني کول دي.

> "نو د سنسکریت کلمه له (سم زه کرته) یعني (اصلاح کرده شده) څخه محرفه دي او دا کټ مټ د پښتو سم ښه کړي (یعني ښه سم کړي) عبارت دي چې د ژبې د تانیث له جهته یا ید (ښه سمه کړې) ؤپله شي. یعني په ښه ډول او ښکلي توب سمه کړې ژبه چې کټ مټ په دغو معنیٰؤ(ښه آراسته کړې، ښه ترتیب او تنظیم کړې بشپړه کړې) ژبو پوهانو هم ضبط کړې ده او دا کلمې له تحلیل څخه په خپله د سنسکریت په نامه کښې د پښتو ژبې اغیزه ښه ښکاري".(۹)

د سنسکریت د نوم نه دا خبره هم صفا کیږي چې د پښتو ژبې خپل وجود د سنسکریت نه مخکښې لرلو. او د سنسکریت په نوم کښې د پښتو اثر په جوت ډول د دې خبرې د ثبوت په توګه وړاندې کیدے شي. خو د نوم د اثر سره سره دا دواړه ژبې په لساني توګه هم یو بل ته رانزدې دي او جخت روابط لري لکه بهادر شاه ظفر کاکا خیل د ډاکټر هنري په حواله لیکي:

> " د فرانس مستشرق ډاکټر هنري هم د دے خیال اظهار کوي چې پښتو یو

مستقلهٔ ژبه ده او د ډيرې مودې نه د سنسکرت او ژند سره په ګواند او ژور تعلق کښې پاتې ده. د دې قياس مرسته د دې نه هم کيږي چې که چرې د پښتو ، سنسکرت او ژند تر مينځه عمومي مقابله اوکړے شي نو دا درې واړه ژبې په الفاظو کښې، د ګريمر په اصولو کښې، د اعدادو په ساخت او وينا کښې يو تربله ډيرې نزدې معلوميږي"۔(۱۰)

په دې بابله ډاکټر عبدالله جان عابد ليکي:

" یہ زبان سنسکرت، ژند(اوستا)، پہلوی، فارسی، وغیرہ زبانوں سے قریبی مشابہت رکھتی ہے۔اس لیے یہ لسانی ہیئت وماہیت اور ساختیاتی خصوصیات کی بدولت مکمل طور پر ایک آریائی زبان ہے۔ چونکہ یہ زبان ازمنہ قدیم سے ایرانی اور ہندوستانی تہذیبوں کے درمیان آباد قوم (پشتون) کی مادری زبان ہے اس لیے اس پر سنسکرت، ژند(اوستا)، پہلوی، فارسی وغیرہ کے اثرات نمایاں ہیں" (۱۱)

ډاکټر اسماعيل ګوهر په خپلې پي ايچ ډي مقاله کښې د دواړو ژبو تعلق ته په دې نظر ګوري:

" ماہرین السنہ کے لسانی مطالعات ونتائج سے یہ حقیقت عیاں ہوتی ہے کہ پشتو کی ساختیاتی خصوصیات کا سامی زبانوں سے کوئی جوڑ نہیں اور اس کی ساخت وپرداخت سنسکرت اور ژند کے بین بین ہوئی ہے اور ان دونوں کی بہن ہے اس کا لسانی جغرافیہ ہندوستانی اور ایرانی تہذیبوں کے درمیان واقع ہے چنانچہ اس نے تاریخ کے مختلف ادوار میں سنسکرت اور ژند دونوں سے آزادانہ استفادہ کیا ہے۔ایک آزاد اور مستقل زبان کی حیثیت سے یہ اخذ وقبول کے نہ صرف اس دوہرے عمل سے گزری ہے بلکہ ہندی اور ایرانی تہذیبوں اور زبانوں کے مابین تہذیبی ولسانی وسیلے کی حیثیت سے متحرک رہی ہے"۔(۱۲)

د پښتو او سنسکرت ژبو د لساني روابطو او نزدې والي په بابله د پوهانو پورتني دليلونه دا ثابتوي چې دا دواړه ژبې د خپلو آريائي خصوصياتو ، خپل قدامت او د ژبې د ساخت له مخه عمومي مشابهت لري او دا دواړه ژبې د الفاظو ، د صرف و نحو د اصولو او په وينا کښې يو تر بله نزدې والے اور خپلوي لري۔ګڼو ژبپوهانو د خپلو رايو او نظرياتو د ثبوت په توګه په خپلو تصنيفاتو کښې د سنسکرت هم آوازه او دهم شکلو الفاظو

فهرستونه هم ورکړي دي. ښاغلي عبدالحی حبيبي هم په خپل کتاب " د پښتو ادبياتو تاريخ" کښې د سنسکرت د مهم او بنيادي لفظونو په پښتو کښې د اصل يا متصرف شکلونو په توګه د استعمال او شته والي دليلونه او ثبوتونه وړاندې کړي دي. او دائې ثابته کړې ده چې دا دواړه ژبې د لفظونو تر مخه ډير يو شان والے لري او د پښتو او سنسکرت تر مينځه د خورولئ د رشتې نظريې ته ئې هم دوام وربخښلے دے. په دې لړ کښې چې هغه د دواړو ژبو په الفاظو باندې کوم مشتمل تقابلي فهرست وړاندې کړے دے د هغې نه څه مهم لفظونه دلته درج کوؤ.

| سنسکرت | پښتو | سنسکرت | پښتو |
|---|---|---|---|
| انګار | انګار | اشوا | اس. اسپه |
| اب | اوبه | انيکه | اننګي |
| پت | پړ | پرنيه | پاڼه |
| جينی | جينی | تاپ | تود |
| چرمن | څرمن | چهل | چل |
| جنګله | ځنګل | جپاکه | څمکه |
| سواپ | خوب | کهر | خر |
| جوړن | زوړ | را | راکه/ راکړه |
| جيا | ژی | جهوا | ژبه |
| سپيت | سپين | شاکها | ښاخ |
| ستاره | ستوري | ستهوت | ستن |
| شيره | سر | سوسوره | سخر |
| سيند | سيند / سين | سم | سم |

| | | | |
|---|---|---|---|
| شا | پرشتها | شپه | شپ |
| غرمه | گهرمه | غنم | گودهوم |
| غوا | گو | کال(بمعنی سال) | کال(بمعنی وقت) |
| کان(معدن) | کهان | کاڼه (یو ستر گے) | کاڼه |
| کپړی۔ کوپړی | کپنال | کله | کدا |
| لیور | دیور | ماښام | شایم |
| مخ | موکه | مرغه | مرگه |
| ستر | ستهویر | مستي | مستو |
| میږ | میښ | مشر | مشر |
| نه | نا | نر | نر |
| نوي | نو | نوم | نام۔ نامن |
| وار | وار | نیت | نیت |
| وینې | شونې | ونه | ون |
| لس | دس | | |

د سنسکرت او پښتو ژبو د نزدیکت له کبله پښتنو لیکوالو هم ځني لغات داسې پکار راوستي دي چې هغه هو بهو د سنسکرت دي یا د لږ ډیر تغیر سره په پښتو کښې مستعمل دي۔ که مونږ وګورو نو ډیر داسې ټکي د سنسکرت مونږ له په ګوتو راځي چې زمونږ پښتنو شاعرانو او ادیبانو په خپلې شاعرۍ یا نثر کښې ځائې کړي دي۔

سلیمان ماکو تذکرة الاولیا کښې د څلورو شاعرانو شیخ بیټني، ملکیارغرشتین ،

شيخ اسماعيل او قطب الدين بختيار کاکي د ژوند احوال او د کلام نمونې ورکړې دي۔ د دې تذکرې د نثر نه دا څرګنديږي چې په دې کښې د سنسکرت ژبې اميزش هم تر څه حده موجود دے۔ د سليمان ماکو د نثر لساني جائزه ډاکټر اسماعيل خپلې مقاله کښې ډير په تفصيل سره وړاندې کړې ده لکه د مثال په توګه د شيخ بيټني په حقله د درج تذکرې په سلسله کښې ليکي چې:

*''شیخ بیٹنی کے تذکرے میں فارسی اور عربی کلمات کے ساتھ پشتو اور سنسکرت کے مشترک الفاظ بھی برتے گئے ہیں۔'' گنړون'' پشتو میں حاصل مصدر ہے۔ گنړل مصدر ہے جس کے معنی گننے کے ہیں۔ سنسکرت میں ''گن گنړ'' حساب لگانے، جوڑنے اور اندازہ کرنے کے معنوں میں اور گنت علم حساب کے معنوں میں تھا۔ دیگر آریائی، ہندی زبانوں میں گنتی'' حساب، تعداد اور شمار کرنے'' کے معنوں میں مستعمل ہے۔ پشتو مصدر گنړل آج بھی مستعمل ہے۔ شیخ بیٹنی کے تذکرے میں سلیمان ماکو نے خاندان کے لیے کول کا لفظ استعمال کیا ہے۔ سنسکرت میں کلم اور کلء کے معنی خاندان، گھر، نسل، ریوڑ اور جھنڈ کے ہیں''۔(۱۳)*

**د رحمان بابا په کلام کښې د سنسکرت الفاظ :**

د سنسکرت لفظي سرمايه پښتو کښې داسې جذب شوې ده چې ځينې لفظونه بغير د څه تغيره هو بهو پښتو کښې مستعمل دي لکه: وار، چل او سم وغيره او ځينې لفظونه د معمولي صوتي تغير او يا د لفظي ترميم سره استعماليږي لکه : شپ(شپه)، ون(ونه) اشوه (اس) وغيره۔

يوه رائې دا هم ده چې دا لفظونه اګر که د ويدي ادب په شکل کښې د سنسکرت برخه ګرځيدلي ده خو اصل کښې دا د پښتو خپل ټکي دي۔ چونکې د ويدي ادب په ذريعه دا لفظونه سنسکرت ژبه کښې محفوظ شوي دي او په دغه وختونو کښې د پښتو ليکونه محفوظ نه دي پاتې شوي نو ځکه ئې د تحريري شهادت په بنياد د سنسکرت سرمايه په ګڼلو مجبوره يو۔

د سنسکرت ژبې لفظي اثرات د برصغير پاک وهند په ټولو ژبو کم و زيات يو شان دي۔ د دې ژبې کوم لفظونه چې د پښتو صوتي نظام ته برابر ؤنو پښتو ژبې قبول کړي او

جذب کړي دي۔ د دې لفظونو لټون مونږ ته دا واضح کوي چې یوه ژبه څنګه د نورو ژبو نه لساني استفاده کوي او خپله لمن پرې فراخه کوي۔ په دنیا کښې د یوې لساني ډلي ژبه هیڅکله هم سوچه او خالصه نه شي پاتې کیدے ځکه چې یو لساني ګروه د خواؤ شا نورو لساني ډلو سره سماجي، کاروباري او یا سیاسي رابطې لري نو د یو بل نه لساني لین دین هم په شعوري یا غیر شعوري توګه جاري وي۔ پښتو د هند او ایران په مینځ کښې د دوؤ تهذیبونو (هندي او ایراني) او د دوؤ مذهبي ژبو (سنسکرت او اوستا) په مینځ کښې ځانله یوه مستقله ژبه وه نو ځکه ئې د دواړو نه لفظي استفاده کړې ده۔د سنسکرت کوم لفظونه چې پښتو کښې جذب شوي دي دا د پښتو برخه ګرځیدلي دي۔ د رحمان بابا کلام کښې هم ځائې په ځائې د سنسکرت الفاظ خواره واره موندے شي دلته څه شعرونه د نمونې په توګه وړاندې کوؤ۔

که څوک تله د انصاف درته په لاس کا
خپل ټټو او د بل آس به برابر کړې (۱۴)

اسپه۔ اس (سنسکرت۔ اشوه)

آب و سیند لا څه مجال لري په تله کښې
د دنیا د چارو هیڅ نه وي مجال (۱۵)

اوبه (سنسکرت۔آب)

خوب د کور کلي په نارو ځما برهم شه
څه چل دے چې نه شي ستا په زړه اثر ځما (۱۲)

چل (سنسکرت چهل بمعنی دهوکه۔ فریب۔ چالاکي)

که هیچا پړ کړي نه وې په جهان کښې
و اجل ته لکه خر په خټه پړ شي (۱۷)

خر (سنسکرت۔ کهر) مفغن شکل ئې خر دے۔

څوک دي را کاندي قسم په کردګار
که درم لرم په کور کښې یا دینار (۱۸)

را۔ د راکړه مخفف شکل یعني ماله راکړه (سنسکرت را بمعنی ورکول اخستل)

سم قامت لکه الف یم په راستی کښې

(۱۹) لکه غشي زه فساد لره سم نه یم
سم (سنسکرت سم بمعنی په شان. پوره. برابر)
هو مره اوښي د عاشق په ګریوان ؤري
(۲۰) ته به وائې چې یو سیند دے ګریوان نه دے
سین. سیند (سنسکرت. سیند)

څوک په شپه کښې شي مهتاب پیدا کولے
ده په شپه کښې پیدا کړي ماه تابان دي (۲۱)

شپه (سنسکرت. شپ) مفغن شکل ئې شپه دے.
نه ملکونه د سلیمان په هزار کالَ
نه یوه ګړۍ طاعت په دا دنیا (۲۲)
کال ( سنسکرت کښې کال د وخت په معنو کښې ؤو . پښتو کښې وخت یو معینه برخې ته وائي یعني د دولس میاشتو کال)
هر مرغه په خپله جاله کښې هما ي دے
که کارغه که مښکیرک دے که ققنس (۲۳)
مرغه. مارغه ( سنسکرت . مرګه) مفغن شکل ئې مرغه دے.
د مژګانو په پنجه مې زړه وکاږي
خدائې د ترکو مستې سترګې کړې زمری (۲۴)
مستي (سنسکرت مستو) مفغن شکل ئې مستي دے.
کج زلفان ، کج ابروان لکه چې ستا دي
نه لړم شته ، نه ماران ، دا هسې شوخ (۲۵)
نه ( سنسکرت. نا)
هم په دائې تر همهٔ نام بلند شه
چې قبوله عندلیب د ګل جفا کړه (۲۶)
نوم. نامه ( سنسکرت نام- نامن)

ستا چې نیت د آشنایۍ نه وه صنمَ
د رحمان ستر ګې دې ولې نه ګنډلې (۲۷)
نیت ( سنسکرت نیت بمعنی انتظام۔ طریقه عمل۔ تدبیر۔ چلن)
دوباره دې راتله نشته په دنیا
نن دې وار دے که دروغ کړې که رښتیا (۲۸)
وار (سنسکرت۔ وار)
لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان راباندې راشي که بهار (۲۹)
ونه ( سنسکرت۔ ون )

د دې بره ورکړے شوؤمثالونو نه دا واضحه کیږي چې د رحمان بابا په کلام سنسکرت ژبه غټ اثرلري او ډیر داسې شعرونه ئې په دیوان کښې موندے شي چې په هغې کښې د سنسکرت ټکي پکار راوستے شوي دي خو د مقالې د طوالت د ویرې په دې لږو مثالونو اکتفاء کوؤ۔

# حوالې

۱۔عبدالحئ حبيبي ، د پښتو ادبياتو تاريخ، لومړۍ او دويم ټوک، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه
۲۰۰۵ء، ص ۱۰۴
۲۔ محمد انصاراللہ،ڈاکٹر، سنسکرت اردو لغت،اسلام آباد، مقتدرہ قومی زبان، طبع دوم، ۲۰۰۹، ص۴
۳۔هم دغه ، ص۱۰
۴۔عبدالحی حبيبي ، د پښتو ادبياتو تاريخ، ص۱۰۸

5. G.A.Grierson, Linguistic survey of Pakistan (Vol:II), Lahore, Accurate printers, Page-9

6. Dr. Trump, Pashto Grammer, London, Imperial Academy, 1873, Page14

۷۔ بهادر شاه ظفر کاکاخيل ، سيد، پښتانه د تاريخ په رڼا کښې، پيښور، يونيورستي بک ايجنسي ، نهم
ځل ۲۰۱۲، ص ۷۲
۸۔عبدالحئ حبيبي ، د پښتو ادبياتو تاريخ، ص ۴۲
۹۔ هم دغه ، ص ۱۴۴۔۱۴۵
۱۰۔بهادر شاه ظفر کاکا خيل، پښتانه د تاريخ په رڼا کښې، ص ۸۰
۱۱۔عبداللہ جان عابد،ڈاکٹر، پشتو زبان وادب کی مختصر تاریخ، پشاور، یونیورسٹی پبلشرز، طبع دوم، ۲۰۱۱ء، ص۲۸
۱۲۔ اسماعیل گوہر،ڈاکٹر، پشتو، پنجابی اور اردو کے لسانی اشتراک (غیر مطبوعہ پی ایچ ڈی مقالہ)، شعبہ پاکستان زبانیں، اسلام آباد، علامہ اقبال اوپن یونیورسٹی، ۲۰۱۴، ص ۳۶
۱۳۔هم دغه ، ص۵۹
۱۴۔رحمان بابا، د رحمان بابا ديوان، مقدمه سيد رسول رسا ، پيښور، يونيورستي بک ايجنسي، مارچ ۲۰۰۹، ص ۱۵۱
۱۵۔هم دغه ، ص ۷۲
۱۶۔هم دغه ، ص ۱۱۲
۱۷۔هم دغه ، ص ۲۲۸
۱۸۔هم دغه ، ص ۳۵
۱۹۔هم دغه ، ص ۷۵
۲۔هم دغه ، ص ۸۸

۲۱۔هم دغه ، ص ۱۰۲
۲۲۔هم دغه ، ص ۶
۲۳۔هم دغه ، ص ۱۵۵
۲۴۔هم دغه ، ص ۸۸
۲۵۔هم دغه ، ص ۲۸
۲۲۔هم دغه ، ص ۱۴۸
۲۷۔هم دغه ، ص ۱۷۸
۲۸۔هم دغه ، ص ۱۱۲
۲۹۔هم دغه ، ص ۳۵

## Refrences

1: abdul haiy habibi,d pakhto adbiyato tareekh,lomray and doyum tok,pekhawar,Danish khperndoya 2005 safha 104
2: Mohammad Ansar ullah,doctor ,Sanskrit urdu loghat,Islamabad,muqtadira quomi zaban,tabgha doom,2009,safha 4
3: Hum dagha, safha 10
4: abdul haiy habibi,d pakhto adbiyato tareekh,safha 108
5: G.A.Grierson, Linguistic survey of Pakistan (Vol:II), Lahore, Accurate printers, Page-9
6: Dr. Trump, Pashto Grammer, London, Imperial Academy, 1873, Page14
7: Bahader shah zafer kaka khail,syed,pukhtanah d tareekh pa rana ki,pekhawer,university book agency,nahum zal 2012,safha 76
8: abdul haiy habibi,d pakhto adbiyato tareekh,safha 42
9: Hum dagha, safhay144-145
10: : Bahader shah zafer kaka khail,syed,pukhtanah d tareekh pa rana ki,safha 80
11:Abdullah jan abid,doctor,Pashto zaban wo adab ki tareekh,Peshawar,university publisher,tabgha doom,2011 safha 28
12:Ismail goher,doctor,Pashto,Punjabi aor urdu kay lisani ishtirak [ghair matbogha PhD maqala],shuba Pakistani zabanay,Islamabad,Allama Iqbal university,2014 safha 36
13:hum dagha, safha 59
14:Rehman baba ,da rehman baba dewan,muqadima syed rasol rasa,pekhawer,university book agency,March 2009,safha 151
15: hum dagha, safha 72
16: hum dagha, safha 116
17: hum dagha, safha 228
18: hum dagha, safha 35
19: hum dagha, safha 75

20: hum dagha, safha 88
21: hum dagha, safha 102
22: hum dagha, safha 6
23: hum dagha, safha 155
24: hum dagha, safha 88
25: hum dagha, safha 28
26: hum dagha, safha 148
27: hum dagha, safha 178
28: hum dagha, safha 112
29: hum dagha, safha 135